*بسم الله الرحمن الرحیم*

**پوهېږئ چې د امام، خلیفه او ډال په نه شتون کې ستاسو خور "مسکان خان" د حجاب له امله په هندوستان کې هندوانو وځورولهٔ!؟**

**خبر:**

مسکان خان هغه نجلۍ ده چې د افراطي هندوانو له خوا حجاب ته د سپکاوي پر وړاندې ودرېده؛ نوموړې په کرناټکا کې د مهاتما ګاندي میمریل کالج زده کوونکې ده. سرچینه: (The News)

**تبصره:**

موږ د عمران او باجوه یوه بله جینایي چوپتیا په داسې وخت کې وینو، چې د هند حکومت په دې هېواد کې د مسلمانانو پر وړاندې سخت اقدامات پیل کړي دي. په کرناټکا کې یوه ځوانه نجلۍ د اسلام د دفاع جرأت کولی شي، خو د اسلامي نړۍ پراشوټي واکمنان چوپ دي؛ دوی باید د دې بې غیرتۍ له امله بنګړي واچوي. دا په داسې حال کې ده چې دهندوستان غوا پرسته هندوانو په سیاسي ډول کشمیر له لاسه ورکړی دی. هغه څه چې د "مودي" په لاس کې دي؛ فزیکي عملیات دي، چې له ملیونونو هندي ځواکونو سره، سره بیا هم ناتوانه دی، چې په کشمیر کې مسلمانان ارام کړي. دلته د عمران او باجوه حکومت په عمده توګه ځیني ټکي له پامه غورځوي، ځکه دوی یوازې لاپې وهي، اقدام نه کوي او دا حالت له غوا پرستانو سره لویه مرسته کوي. که په دوی کې له مسلمانانو څخه د دفاع غیرت نه وي؛ نورو مجاهدینو ته خو دې اجازه ورکړي، چې په آزادانه ډول د پولې په اوږدو کې تګ راتګ وکړي.

په کشمیري ورونو د ظلم دوام نور نه شو زغملی، په ۱۹۴۸م، کې موږ کولی شول چې آزاد کشمیر تر خپلې ولکې لاندې راولو او دا زموږ مکلفیت وو، چې داسې مو کړي وای؛ خو پاکستاني حکومت د ملګرو ملتونو احترام وکړ او پایله یې دا شوه، چې امریکایانو پاکستانی پوځ د ځینو تړونونو او قوانینو له امله دې ته اړ کړ چې د کشمیر د دښمنانو پر ځای خلافت غوښتونکي وځپي. په سیمه کې چین هم د یوه قوه لوبغاړي حالت خپل کړی؛ پاکستاني حکومت کولی شي چې د چین او امریکا تر منځ له اختلافاتو څخه د اسلامي امت په ګټه کار واخلي، خو دوی دا کار نه کوي، په ډېره بې شرمۍ سره یوازې د هند ضد شعارونه ورکوي او وایي چې هند ظالم دی، هند د پاکستان داخلي نظم د افغانستان له لارې خرابوي، هند په ملګرو ملتونو کې د APS تر شاه د پاکستان ضد دوسیې وړاندې کوي... په یاد ولرئ چې حق غوښتل کېږي نه، بلکې په زور اخیستل کېږي. په کشمیر کې د هندي محاصرې نږدې اته سوه ورځې کیږي؛ په دې موده کې د بُت پرستو ظلمونه اوج ته رسېدلي، په زرګونو مسلمان یې شهیدان کړي، په زرګونو نورو ته یې بې عزتي اړولې. ټوله نړۍ پرې خبره ده، خو د ظلم پلوي کوي. پاکستاني حکومت د کشمیر د آزادۍ پر ځای هندوانو ته بیا، بیا مهلت ورکوي او له خپلو خلکو څخه یوازې په غولونکو شعارونو ځان خلاصوي. شعارونه، مناظرې او خبرې د "مودي" حکومت وحشیانه ظلمونه نور هم زیاتوي، هندوانو د پاکستاني دولت پر وړاندې شدیده رواني، سیاسي، پوځي او د نسل وژنې جګړه پیل کړې. هندوان څه کوي او موږ څه کوو؟؟ په دې سره مو حیثیت خرابېږي، چې د کشمیر غوندې مسایلو ته د خبرو لار لټوو، تاریخ ګواه دی چې د کشمیر غوندې لانجې هېڅکله په خبرو نه دي حل شوي. په افغانستان کی هغه وخت امریکا له مجاهدینو سره خبرو ته اړ شوه، چې کله یې د تاریخ تر ټولو اوږده جګړه د طالبانو پر وړاندې وبایلله. اوسنی حکومت هم د امریکا په برخلیک اخته کېدونکی دی، ځکه د بُت پرستانو پروړاندې هېڅ نه شي کولی، په قصدي ډول یې د نړیوال بانک پروګرامونه منلي او د FATF له لارې یې تش

او په بې معنا ډول زموږ لاسونه تر شاه تړلي دي، زموږ زمریان په غوا پرستانو باندې هر ډول بریدونو ته چمتو دي، خو تر هغو پورې کشمیر نه شي ژغورلی، تر څو پورې چې د خلافت دولت نه وي رامنځ ته شوی، لکه څرنګه چې محمد بن قاسم غوندې اووه لس کلن ځوان د خلافت تر چتر لاندې بریالی شوی و او د الله تعالی بنده ګان یې د بنده له بندګۍ خلاص کړي وو او د الله بندګۍ ته یې رابللي وو؛ زموږ زمریان هم دا کار کولی شي، یوازې خلافت ته اړتیا ده، خلافت ته!

کله چې فساد او ظلم اوج ته ورسېږي، ظالم د دې احساس وکړي چې هر څه زه کولی شم، له ما پرته څوک نه شته چې څه وکړي، مظلوم خپل ټول حواس وبایلي او د آسمان پر لوري بې اختیاره خپل لاسونه لپه کړي؛ وپوهېږئ چې په دې وخت کې لوی بدلون حتمي راځي او همدا د بریا لومړنی شیبې دي.

د نبوت پر بنسټ راشده خلافت کول کولی شي چې دې ټولو ستونزو ته د پای ټکی کېږدي؛ اې وروڼو! تر بل هر وخت راشده خلافت ته نږدې شوي یو، د بیا تأسیس لپاره یې تر بل هر وخت زیات کار وکړئ!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«إنما الإمام جنة يقاتل من ورائه ويتقى به»**

***ژباړه:*** *امام ډال دی؛ ساتنه کوي او تر شاه یې جګړه کېږي.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکنه: محمد عادل**

**ژباړه: حمزه صدیقي**